UNAMA
SRSG Briefing

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

## امنیت شورا ته د ځانګړې استازي د مرستیال مارکس پوټزیل وینا

د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته

د افغانستان لپاره د سرمنشي د ځانګړې استازي د مرستیال مارکس پوټزیل وینا

نیویارک، ۲۷ سپتمبر ۲۰۲۲

[څرنګه چې وړاندې شوې]

***

ښاغلو او آغلو،

آغلې رئیسې،

زه وېره لرم چې د افغانستان له طالب چارواکو سره د تعامل د ستراتیژۍ په تړاو په نړیوالې ټولنه کې د زیات شمېر د زغم کاسه په نسکورېدو ده.

په تیرو څو میاشتو کې یو شمېر مثبت تحولات رامنځ ته شوي، خو خورا کم، ډېر سوکه او منفي هغو پرې سیوری غوړولی. په ځانګړې ډول، له شپږم ټولګي پورته د نجونو پر زده کړو روان بندیز – په نړۍ کې یې ساری – او د ښځو پر حقونو زیاتېدونکي محدودیتونه هغه نښې نښانې دي چې طالبان له ۵۰ سلنې د زیات نفوس په وړاندې بې پروا دي او غواړي چې د نړیوالې انزوا له خطر سره مخ شي. تر دې دمه په ټولو کچو کې له ګڼ شمېر  برحاله چارواکو سره زموږ په مباحثو کې، طالب مشرانو په ډاګه کړې چې دغه پرېکړه د امیر هبة الله له خوا شوې او ساتل شوې، او له هغه شاوخوا چاپېر سخت دریزې یې دفاع کوي،  خو د حرکت د زیاترو پاتې نورو هغو غړو له خوا تر پوښتنې لاندې نیول شوې څوک چې د دغه مسیر د بدلون وړتیا نه لري یا یې نه غواړي. کور ته د ښځو او نجونو تبعید نه یوازې دا چې هغوی له خپلو حقونو محروموي، بلکې افغانستان په ټولیز ډول له هغو مهمو مرستو او ونډو چې ښځې او نجونې یې وړاندې کوي، بې برخې کوي.

همدارنګه د طالبان ځینې ادعا شوې او منل شوې لاسته راوړنې په تدریجي ډول له منځه تلونکې دي. په تیرو څو میاشتو کې په هغو امنیتي پېښو کې چې د یوناما له خوا ثارل شوي ثابت زیاتوالی رامنځ ته شوی – دواړه وسله والې نښتې او جنایي هغه، دغه راز د لوړې کچې ترهګریز مرګوني بریدونه. د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې (ISKP) د وړتیاوو په اړه زموږ مخکیني خبرداري د طالبانو له خوا له پامه غورځول شوي. خو یوازې په تیرو څو میاشتو کې نوموړې ډلې په ډاګه کړه چې کولې شي طالبانو ته د نږدې اشخاصو وژنې، د بهرنیو سفارتونو په وړاندې بریدونه ترسره کړي، همدارنګه پر ګاونډیو هیوادو د برید کولو په پار د افغانستان د پولو په اوږدو کې راکېټونه ګذار کړي، او د دې ټولو ترڅنګ د شیعه مذهبه مسلمانانو او قومي لږکیو په وړاندې خپل اوږدمهاله فرقه ییزې مبارزې ته دوام ورکړي. موږ په ځانګړې ډول په کابل کې د روسیې پر سفارت د وروستي برید په اړه اندېښمن یو کوم چې د روسي دیپلوماتانو په ګډون ۱۰ کسان ووژل. د هغو بریدونو سربېره چې د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې له خوا ترسره شوي، یو شمېر پېښو چې مسوولیت یې کوم مشخص لوري نه دی منلی هغه افغانان وژلي او ژوبل

کړي چې د ژوند ورځنۍ چارې يې ترسره کولې، په ځانګړي ډول خپلو عبادت ځايونو ته د حاضرېدو پرمهال. له دغه فرصت څخه په ګټې سره د دغو پېښو له قربانيانو او د هغوي له کورنيو سره خپله غمرازي شريکوم.

د کابل په زړه کې د القاعده د مشر الظواهري راپور شوی شتون او د هغه په وړاندې برید، دغه راز د نورو تروریستي ډلو دوامدار شتون له تروریزم سره د طالبانو د مبارزې ژمنې تر پوښتنې لاندې راوستي چې په دې ډول يې له نړيوالې ټولنې سره د باور واټن لا پسې ژور کړی. دغه پوښتنې لا تر اوسه بې ځوابه پاتې دي.

په پنجشیر، بغلان، کاپیسا، تخار او بدخشان ولايتونو کې د برحاله امنيتي ځواکونو او مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ وسله والې نښتې دوام لري. داسې زړه بګنوونکي راپورونه او دغه راز ویډیو ګانې او انځورونه شتون لري کوم چې په پنجشير کې له بشري حقونو څخه ترسره شوې ممکنه جدي سرغړونې څرګندوي. يوناما پر برحاله چارواکو غږ کړی چې له نړيوالو معيارونو سره سم دې په پنجشير کې د صحرايي او له محکمې پرته وژنو ادعاوې وڅېړي. برحاله چارواکو په ډاګه کړې چې هغوي به د دغو ادعاوو په اړه جدي څېړنې ترسره کړي. د دغو څېړنو وضعيت لا تر اوسه نا معلوم دی. يوناما به د بشري حقونو د جدي سرغړونو د دغو او نورو راپورونو څارل په دقت سره جاري وساتي.

آغلې رئيسې،

په افغانستان کې اقتصادي وضعيت لا اوس هم کمزوری او ترینګلی ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې طالبان ادعا کوي چې صادرات يې زيات کړي، د افغانيو ارزښت يې ساتلی، او د عوايدو ثابت راغونډول يې رامنځ ته کړي، خو سږی سر عايد د ۲۰۰۷ کال کچو ته پرېوتی – چې د ۱۵ کلونو اقتصادي وده يې له منځه وړې.

له دې سره سره، د طالبانو د حکومتولۍ د زيات شمير نورو اړخونو په څېر، د هغوي د ادعاوو تر شا معلومات نا روښانه دي. د دوامدار اقتصادي رکود يوه برخه د نغدو پيسو د ستونزو له امله ده چې له نړيوال بانکي سيستم څخه د افغانستان د جلا کيدو سره تړاو لري. د نغدو پيسو شتون تر ډيره پر هغو پيسو متکي دی چې ملګري ملتونه يې داخل ته د بشري عملياتو په پار راوړي – بايد ټينګار وکړم، نغدي پيسې هغه دي چې له افغان وګړو سره مرسته کوي او په مستقيم ډول برحاله چارواکو ته نه رسيږي.

خو آن دغه تمويلونه ډاډمنه نه ده. د ۲۰۲۲ کال د بشري غبرګون پلان د ۴.۴ بيليونه امريکايي ډالرو له اړتيا څخه تر دې دمه يوازې ۱.۹ بيليونه امريکايي ډالر ترلاسه کړي. دغه مبلغ آن نيمه يې هم نه پوره کوي. د زياتېدونکو اړتياوو او د خوراکي توکو د خونديتوب د خرابېدونکي وضعيت په حال کې د تمويلونې دغه ډول تشه خورا ګواښوونکې ده په داسې حال کې چې ژمی يو ځل بيا د را نږدې کېدو په درشل کې دی. په سملاسي ډول، د بشري مرستو همکارۍ ادارې ۶۱۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته د ژمني چمتوالي لومړيتوب د ملاتړ په پار اړتيا لري، پر دې سربيره مخکې تر دې چې لارې د هوا له امله بندې شي، په دغو سيمو کې مخکې له مخکې د اړينو توکو د ځای پر ځای کولو لپاره ۱۵۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته اړتيا ده.

موږ د متحده ايالاتو له خوا د افغان وجهي صندوق ايجادول ملاحظه کړل په کوم کې به چې د افغان زيرمو د اوو بيليونه امريکايي ډالرو نيمه يې هغه په سويس کې په يوه بانکي حساب کې ځای پر ځای کېږي کومې به چې د افغانستان اقتصاد د استقرارولو لپاره وکارول شي. موږ ته خبر راکړل شوی چې دا تر هغې يو موقت اقدام ګڼل کېږي تر کوم چې د افغانستان د مرکزي

بانک پر ورته‌یا زیات باور نه وي رامنځ ته شوی څو د پیسو مینځلو او د تروریستي ډلو د بالقوه تمویلونې په مقابل کې تضمینونه رامنځ ته کړي.

خو دغه بشري او اقتصادي تدابیر به د افغان وګړو اوږد مهاله اړتیاوې پوره نه کړای شي. یوازې بشري مرسته د اړینو خدمتونو لکه د روغتیا او اوبو د برابرونې د سیستمونو ځای نه شي نیولی، نه هم د اقتصادي سقوط مخنیوی کولی شي. یوناما له مرستندویانو غوښتنه کوي چې د بشري مرستو د عمل سربېره د بنسټیزو بشري اړتیاوو د ځینو پروژو د ملاتړ له لارې د وګړو د اړتیاوو د تامینولو په وړاندې هغه تکمیلي طریقه غوره کړي، کومه چې د ځایي ټولنو ظرفیت غښتلی کوي، بنسټیزو جوړښتي موضوعاتو ته رسیدګي کوي، اقتصادي ودې ته رشد ورکوي، او د چاپیریال بدلون د اغیزو د راکمولو هڅه کوي – کومې چې په افغانستان کې په ځانګړي ډول شدیدې دي. تر اوسه د مرستندویانو ترمنځ د برحاله اړوند وزارتونو لپاره د محدودې تخنیکي مرستې د برابرولو یا د ورې کچې زیربنایي پروژو د ساختماني چارو د بشپړولو په تړاو اجماع نه ده موجوده. ډیری مرستندویان داسې احساس کوي چې طالبان نه باید د دوي تر کنټرول لاندې خلکو د اړتیاوو د تامینولو له مسؤلیت څخه خلاص شي. په دې کې د هغوي د خپلې بودجې لا زیات شفاف کول شامل دي څو مرستندویان وکولی شي په غوره ډول هغه واقعي اړتیاوې و ارزوي کومې چې د برحاله چارواکو له خوا نه شي تامین کیدلی.

په عین حال کې، طالبان په خپله وایي چې دوي د خصوصي سکتور په مشرتابه ودې ته ژمن دي چې دا به پر مرستو د اتکاء او مشروطیت مخه ونیسي. خو دغه کار د واضح حقوقي چوکاټ، عامه پانګوونو، کارنده بانکي سیستم، د باور وړ انرژي او مخابراتي خدمتونو او یوه لوستي کاري ځواک چې ښځې په کې شاملې وي په ګډون، عملي ګامونو ته اړتیا لري چې تر دې دمه نه دي پورته شوي. دوه ورځې مخکې ما په کابل د ښځو د استازو له یوې ډلې سره وکتل چا چې پرېکړه کړې وه چې په افغانستان کې پاتې شي او خپلې سوداګریزې چارې جاري وساتي. له دغو ښځو سره باید د نړیوالې ټولنې له خوا مرسته وشي او له یاده و نه ایستل شي.

همدارنګه په تصمیم نیونه کې لا اوس هم سیاسي ټول شمولیت او شفافیت شتون نه لري. زیاتره افغانان د حکومتولۍ په ټولو کچو کې خپل ځانونه ممثل نه ویني. د خلکو لپاره منسجم میکانیزمونه شتون نه لري څو چارواکو ته نظرې ورکړي او د دې لړې نښې نښانې لیدل کې چې طالبان دې آن د هغوي اوریدل وغواړي. یوناما د خپلو ساحوي دفترونو له لارې په دوامدار ډول کار کوي څو بر حاله ځایي چارواکي او د میرمنو په ګډون د افغان ټولنو استازي سره یو ځای کړي څو د سلا مشورو کچه ښه کړي.

یوناما د بشري حقونو په خپل راپور کې چې د روان کال په جولای کې خپور شو، له تیر کال راهیسې واک ته د طالبانو له رسیدو راهیسې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت په ډاګه کړی. د ښځو او نجونو پر حقونو د پام وړ محدودیت او همدارنګه له نړیوالو بشري حقونو د احتمالي سرغړونو سربېره، یوناما د بخښنې له هغه اعلان څخه د سرغړونو ثبتولو ته دوام ورکوي چې د طالبانو لخوا د ستاینې وړ اعلان شو خو په متناقض ډول پلی شو. رسنۍ چې پخوا په سیمه کې تر ټولو له شور او ځوک ډکې ګڼل کیدې، له تهدید او محدودیتونو سره لاس او ګریوان دي په داسې حال کې چې مدني ټولنه له ګواښ سره مخ ده، او د دعوت او ارشاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر برحاله وزارت په افغان ټولنه کې په پراخ ډول او لا زیات ډارونکي حضور لري.

آغلې رئیسې،

د کابل له نیولو راهیسې، د طالبانو له خوا رامنځ ته شوی امارت لا تر اوسه د هیڅ دولت له خوا په رسمیت نه دی پېژندلی. په ورته وخت کې نړیواله ټولنه هم نه غواړي چې د دغه هیواد سقوط ووینې. د افغانستان ګاونډیانو په ځانګړې توګه عملي تګلار غوره کړې او د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د ژورولو او د ثبات د رامنځته کولو په لټه کې دي.

د تاشکند د جولای د ۲۶ نېټې کنفرانس کوم چې د لومړي ځل لپاره طالب استازي، د سیمې غړي او عنعنوي مرستندویان سره راغونډ کړي وو، د تعامل یو پلاټفورم او د نړیوالې ټولنې لپاره د دې یو فرصت رامنځ ته کړ څو د دې په اړه خپل متحد دریځ څرګند کړي چې له برحاله چارواکو د هغې غوښتنې کومې دي. له بده مرغه طالب پلاوي له دغه فرصت څخه ګټه پورته نه کړه څو په رغنده ډول دغو توقعاتو ته رسیدګي وکړي. له دې سره سره، موږ باور لرو چې د تاشکند فارمټ ګټور دی او باید ادامه پیدا کړي.

په لومړیو کې برحاله چارواکو د بشري مرستونو د امنیت او خپلواکۍ په تړاو ژمنې ترسره کړې وې. دغه ژمنې هم په تدریجي ډول له منځه تلونکې دي. موږ له زیاتې اندېښنې سره د ارشاد او دعوت، امر بالمعروف او نهی عن المنکر برحاله وزارت او د استخباراتو د عمومي ریاست له خوا په کندهار کې د دریو میرمنو چې د ملګرو ملتونو په ادارو کې یې کار کاوه توقیف او دغه راز د خپلو کارمندانو او دفترونو/ودانیو او پر نورو هغو کسانو چې په نورو ادارو کې کار کوي زیاتیدونکي فشارونه ولیدل. په عام ډول، برحاله چارواکي داسې عملیاتي خنډونه رامنځ ته کوي کوم چې د ملګرو ملتونو او د هغوي د بشري مرستو د همکارو ادارو کار په زیاتیدونکي ډول له ستونزو سره مخ کوي، او په ځینو مواردو کې د نړیوالو او پېژندل شویو اصولو منافي وي.

که چیرې طالبان د افغان ټولنې د ټولو عناصرو اړتیاوو ته ځواب و نه وایي او له نړیوالې ټولنې سره د فرصت په خورا محدود چوکاټ کې په رغنده ډول تعامل ونه کړي، روښانه نه ده چې په راتلونکې که به څه پېښ شي. لا زیات ویش، انزوا، بې وزلي او داخلي شخړې له احتمالي سناریوګانو څخه ګڼل کېږي چې د بالقوه ډله ییزې کډوالۍ او د تروریستي سازمانونو لپاره د مساعد کورنۍ چاپیریال، دغه راز د افغان وګړو لپاره د لوی بدبختۍ لامل کیږي.

نو له همدې امله موږ باید تعامل وکړو. زموږ د تعامل هدف په افغانستان کې داسې حکومتولۍ ته وده ورکول دي کومه چې د افغان وګړو په ګټه کار کوي او د نړیوالې ټولنې نورمونو ته درناوی کوي. که څه هم بریا ډاډمنه نه ده، دوامدار وړ تعامل د دغو اهدافو د ترلاسه کولو واقعي چانس ګڼل کیږي.

آغلې رئیسې، شورا ته د وینا کولو په پار له دغه فرصته نړۍ مننه. موږ په یوناما کې کابل ته زموږ د نوې استازې آغلې روزا اوتونبایوا راتګ ته سترګې پر لار یو. په عین حال کې، دا زما لپاره د ویاړ ځای دی چې تاسو ته په دې حساسه شیبه کې د وضعیت په اړه د یوناما درک وړاندې کوم.